بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدلله ربّ العٰلمين والصّلوٰة والسّلام علىٰ سيّد المُرسلين و علىٰ آله و أصحابه أجمعين.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د دفتر ریاست
د احکامو او فرامینو د ثبت آمریت

۱م

ګڼه: ۲۴

نېټه: ۱۴۴۶/۱۱/۲۷هـ ق

## د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د قاچاق د مخنيوي قانون د انفاذ په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی

# فرمان

**لومړۍ ماده:**

د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د قاچاق د مخنيوي قانون په (۱) مقدمه، (۴)بابونو، (۳) فصلونو او (۳۹) مادو کې توشيح کوم.

**دوهمه ماده:**

دغه فرمان د توشيح له نېټې څخه نافذ او د ياد قانون له متن سره يو ځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

**اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

ذوالقعدة الحرام ۱۴۴۶هـ ق

وکیل شو
۱۴۴۶-۱۲-۴ هـ ق
د مقام دفتر لوی ریاست ته!
۲۱۷۹۵
د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان د تکثیر لپاره مربوط مراجعو ته ولیږي

الحاج عبدالعزیز [illegible] جلالی
د [illegible] وزارت سرپرست

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم(١)

الحمدلله ربِّ العٰلمين والصَّلوٰة والسَّلام علٰى سيِّد المُرسلين و علٰى آله و أصحابه أجمعين. (٢)

# د خوراكي توكو، درملو او روغتيايي محصولاتو د قاچاق د مخنيوي د قانون

# كتاب

د خوراكي توكو، درملو او روغتيايي محصولاتو د قاچاق د مخنيوي قانون پر يوه مقدمه، څلورو بابونو، درو فصلونو او څلور ديرشو مادو مشتمل دی.

## مقدمه

مقدمه د له اميرالمؤمنين او اصولو څخه مراد، اصطلاحگاني، د تطبيق مراجع او د تطبيق ساحه پرمادو مشتمله ده.

**له اميرالمؤمنين او اصولو څخه مراد**

**لومړۍ ماده:**

(١) په دې قانون كي له اميرالمؤمنين څخه مراد عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القران والحديث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالى دی.(٣)

(٢) په دې قانون كي له اصولو څخه مراد هغه اصول دي چي د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى لخوا تائيد يا توشيح شوي وي.(٤)

---

(١) ابتدأ الكتاب بالبسملة أولا، ثم ثنى بالحمدلة اقتداء بالكتاب العزيز المستفتح هكذا، وعملا بقوله - عليه الصلٰوة والسلام -: «كل أمرذي بال لا يبدأ فيه بذكر الله وبسم الله الرحمن الرحيم فهو أقطع.» رواه الحافظ عبد القادر الرهاوي في أربعينه: وفي رواية أبي داود والنسائي: «كل كلام لا يبدأ فيه بالحمد لله فهو أجذم» وفي رواية ابن ماجه: «كل أمرذي بال لم يبدأ فيه بالحمد لله فهو أقطع» ورواه أبو عوانة وابن حبان في صحيحهما. [البناية شرح الهداية(ج١ص ١٠٥) الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان].

(٢) ذكروا أن من الواجب على مصنف كتاب، او مؤلف رسالة ثلاثة أشياء: وهي البسملة، والحمدلة، الصلٰوة. [عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج ١ ص ٧٧) [الرشيدية].

وختمنا بالصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم تيمناً ولما ورد في ذلك. [الفتاوى تنقيح الحامدية ج١ ص ٣) [اميرحمزه.]

(٣) - (المادة:١٣) ( لا عبرة للدلالة في مقابلة التصريح ) لأن دلالة الحال في مقابلة التصريح ضعيفة فلا تعتبر مقابلة للتصريح القوي إن اللفظ الذي يكون به التصريح يسمى لفظا صريحا . تعريف الصريح عند علماء أصول الفقه : هو الذي يكون المراد منه ظاهرا ظهورا بينا وتاما ومعتادا فعليه لو أن شخصا كان مأذونا بدلالة الحال بعمل شيء فمنع صراحة عن عمل ذلك الشيء فلا يبقى اعتبار وحكم لذلك الإذن الناشئ عن الدلالة . ...(رجحان الصراحة) ورجحان الصراحة على الدلالة إنما يكون عند حصول معارضة بين الصراحة والدلالة. [درر الحكام شرح مجلة الأحكام ج١ ص ٢٨، دار الكتب العلمية].

- النَّص مقدم على الْقيَاس بِلَفْظِهِ وَمَعْنَاهُ. أصول السرخسي ج٢ ص ١٥٠) الناشر: دار المعرفة – بيروت].

(٤)- وكذلك إن أمروهم بشيء لا يدرون أينتفعون به أم لا، فعلهم أن يطيعوه، لأن فرضية الطاعة ثابتة بنص مقطوع به وما تردد لهم من الرأي في أن ما أمر به منتفع أو غير منتفع به لا يصلح معارضا للنص المقطوع [شرح السير الكبير ج ١ ص : ١٦٥ الناشر: الشركة الشرقية للإعلانات].

- مطلب طاعة الإمام واجبة قوله ( أمر السلطان إنما ينفذ ) أي يتبع ولا تجوز مخالفته .[رد المحتار على الدر المختار ج٥ ص ٤٢٢، الناشر: دار الفكر للطباعة والنشر].

## اصطلاحګانې

**دوهمه ماده:**

په دې قانون کې راتلونکي اصطلاحګانې لاندې معناګانې افاده کوي: (۵)

۱- **قاچاق:** هر هغه انساني، حیواني او کرنیز درمل، روغتیایي محصولات او خوراکي توکي دي چې د اسلامي امارت له اجازې پرته افغانستان ته وارد او یا ورڅخه صادریږي.

۲- **غیررسمي واردات:** هغه خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات دي چې د اسلامي امارت له اجازې پرته افغانستان ته واردیږي.

۳- **رسمي غیر اصولي واردات :** هغه قاچاقي مالونه دي چې ګمرکي پړاوونه یې سرته رسېدلي وي او بیلتي (د انتقالولو اسناد) ولري ولې واردوونکی یې د عامې روغتیا او کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارتونو او نورو اړونده ادارو اجازه لیک ونه لري او هغه اصول چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لخوا تائید یا توشیح شوي وي، په پام کې نه وي نیولي.

۴- **مشروط مجاز خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات:** هغه خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات دي چې واردول او صادرول یې د اسلامي امارت اجازې ته اړتیا ولري.

۵- **غیر مجاز خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات:** هغه خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات دي چې صادرول، واردول او ترانزیټ یې د اسلامي امارت د اجازې او اصولو په نظر کې نیولو سره سم منع ګرځول شوي وي.

٦- **ممنوعه خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات:** هغه توکي، درمل او روغتیایي محصولات دي چې تولیدول، صادرول، واردول او حمل و نقل (ټرانزیټ) یې د شریعت د حکمونو پر اساس ممنوع ګرځول شوي وي.

۷- **ګمرکي قلمرو:** د افغانستان له ټولو پولو څخه عبارت دی چیرته چې ګمرکي اصول د تطبیق وړ وي.

۸- **رسمي لاره:** هغه لاره ده چې هلته فعال ګمرکي واحدونه موجود وي او د هغې څخه واردات او صادرات کیږي.

۹- **غیر رسمي لاره :**هغه لاره یا ساحه ده چې د ګمرک کارکوونکي پکې شتون ونه لري.

---

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة اه [حاشية رد المحتارعلى الدرالمختارج ۲ ص ۱۷۲ . دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت].

- أنهم صرحوا أن المباح في نفسه قد يصير حرامًا من حكم الأمير من جهة أن الله أمر بطاعتهم، فقال: {أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم} فحينئذٍ لو رأى الأمير أن يمنع الناس عن أكل شيءٍ لمصلحةٍ بدت له، يجب عليهم أن لا يأكلوه، ويحرم عليهم. [فيض الباري على صحيح البخاري ج ۲ ص ۴۰۸ الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان].

- وَظَاهِرُ كَلَامِهِمْ هَاهُنَا أَنَّ السِّيَاسَةَ هِيَ فِعْلُ شَيْءٍ مِنْ الْحَاكِمِ لِمَصْلَحَةٍ يَرَاهَا، وَإِنْ لَمْ يَرِدْ بِذَلِكَ الْفِعْلِ دَلِيلٌ جُزْئِيٌّ. [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري ج٥ص ۱۱].

(٥) - فلا نزاع في أن لكل قوم من العلماء اصطلاحات مخصوصة يستعملونها في معان مخصوصة إما لأنهم نقلوها بحسب عرفهم إلى تلك المعاني أو لأنهم استعملوها فيها على سبيل التجوز ثم صار المجاز شائعا .المحصول للرازي (ج ٤ ص ٤٥٢) الناشر: مؤسسة الرسالة

- لا مشاحة في الاصطلاح بل تخطئة المرء في اصطلاحه بعيدة عن الصواب . {مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (ج ۱ ص ۱۳}

۱۰- **خوراکي توکي:** د خوراک او څښاک ټول هغه توکي دي چې انسان او حیوان یې د بدن د ودې او قوت د تأمین د منبع په توګه کاروي.

۱۱- **درمل (انساني، حیواني او نباتي درمل) :** هر هغه ماده چې د ناروغۍ د مخنیوي، تشخیص، درملنې او تسکین لپاره کارول کیږي او د انسان او حیوان د غړو په جوړښت یا فعالیت اغېزه کوي یا د بدن غیر عادي فعالیت اصلاح کوي.

۱۲- **روغتیایي محصولات:** طبي لوازم او تجهیزات، طبي خوراکي مواد، درملیز توکي، درملیز خوراکي محصولات، ریجینټونه (هغه کیمیاوي مواد دي چې د تعامل یا معاینې لپاره کارېږي) لابراتواري مواد او نور روغتیایي توکي دي چې چارې یې د عامې روغتیا اوکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونو له خوا تنظیمېږي.

۱۳- **اجازه لیک (ثبت شوی پروفورمه او یا د محصول د ثبت تصدیق پاڼه):** هغه سند دی چې د عامې روغتیا او کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونو له خوا صادرېږي او پر اساس یې افغانستان ته خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات واردېږي.

۱٤- **ارفان درمل:** هغه ځانګړي درمل دي چې د نادرو ناروغیو د درملنې، مخنیوي او تشخیص په موخه کارول کیږي او له تولید کوونکو او یا واردوونکو سره یې د واردولو او تولیدولو علاقه کمه او د عامې روغتیا او کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونو په سپارښتنه په معین وخت او معینه اندازه تولید او واردېږي.

**۱۵- کرنیز درمل:** هغه کیمیاوي زهري او غیر زهري مرکبات دي چې د کرنې په برخه کې د نباتاتو د ودې، حاصل د ناروغیو او آفتونو مخنیوي او د زیان رسوونکو نباتاتو د له منځه وړلو لپاره کارول کیږي.

**۱٦- درملیز مرکزونه :** هغه تشبثات دي چې د درملو او روغتیایي محصولاتو تولید، تورید، صدور، ساتنه، توزیع او خرڅلاو کوي او د فعالیت جواز لیک یې د عامې روغتیا او کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونو څخه ترلاسه کړی وي.

**۱۷- د خوراکي توکو مرکزونه:** هغه تشبثات دي چې د خوراکي توکو تولید، تورید، صدور، ساتنه، توزیع او خرڅلاو کوي.

۱۸- **دودیز محصولات:** هغه محصولات دي چې د یوناني درملتونونو د مرجع اسنادو، علمي او تجربوي شواهدو پر اساس په یوناني درملتونونو کې د یو یا څو طبیعي محصولاتو په کارولو سره د لا ښې استفادې وړ ګرځي او د طبیبانو لخوا د ناروغیو د درملنې او د افرادو د روغتیا د ښه والي لپاره تجویز کیږي.

**<u>د تطبیق مراجع</u>**

**دریمه ماده:**

د عامې روغتیا، د مالیې، کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، د کورنیو چارو، دفاع، صنعت او سوداګرۍ او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونه، ستره محکمه، د استخباراتو لوی ریاست، د چارو د ادارې د ښاروالیو د انسجام لوی ریاست د دې قانون د تطبیق مراجع دي. (٦)

---

(٦)- أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى وجميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال وحفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ٦ ص: ٥٠ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

## د تطبيق ساحه

**څلورمه ماده:**

(۱) دغه قانون، د افغانستان په قلمرو کې پر هغو مراجعو او افرادو د تطبيق وړ دی چې د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو په قاچاق کې ښکيل وي. (۷)

(۲) دغه قانون، د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو توريدي شرکتونه، هوايي او ځمکنيز ترانسپورتي شرکتونه، داخلي او نړيوال موسسات، د درملو او روغتيايي محصولاتو تجويز کوونکي، د دوديز طب مرکزونه او طبيبان، او د جواز پرته واردکوونکو باندې د تطبيق وړ دی. (۸)

## لنډ نوم

**پنځمه ماده:**

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په دې قانون کې له دې وروسته د کرنې وزارت په نوم يادېږي. (۹)

# لومړی باب

# د وزارتونو مکلفيتونه

## د عامې روغتيا وزارت وظايف او مکلفيتونه

**شپږمه ماده:**

(۱) د عامې روغتيا وزارت لاندې وظايف او مکلفيتونه لري: (۱۰)

---

- لما كان الملك لا يستطيع إقامة هذه المصالح كلها بنفسه وجب أن يكون له بإزاء كل حاجة أعوان ، ومن شرط الأعوان الأمانة والقدرة على إقامة ما أمروا به و انقيادهم للملك والنصح له ظاهرا أوباطنا [حجة الله البالغة ج ١ص ٩٨ ]داراحياء علوم الدين .

- وأما وزارة التنفيذ فحكمها أضعف وشروطها أقل؛ لأن النظر فيها مقصور على رأي الإمام وتدبيره، وهذا الوزير وسط بينه وبين الرعايا والولاة يؤدي عنه ما أمر، وينفذ عنه ما ذكر، ويمضي ما حكم . [الأحكام السلطانية للماوردي (ص: ٥٦] الناشر: دار الحديث - القاهرة

(٧) - وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١]الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- واعلم أن التوسعة على الحكام في الأحكام السياسية ليس مخالفا للشرع، بل تشهد له الأدلة المتقدمة، وتشهد له أيضا القواعد الشرعية . [معين الحكام فيما يتردد بين الخصمين من الأحكام (ص: ١٧٦] الناشر: دار الفكر

(٨) المرجع السابق.

(٩) - فلا نزاع في أن لكل قوم من العلماء اصطلاحات مخصوصة يستعملونها في معان مخصوصة إما لأنهم نقلوها بحسب عرفهم إلى تلك المعاني أو لأنهم استعملوها فيها على سبيل التجوز ثم صار المجاز شائعا .المحصول للرازي (ج ٤ص ٤٥٢) الناشر: مؤسسة الرسالة

- لا مشاحة في الاصطلاح بل تخطئة المرء في اصطلاحه بعيدة عن الصواب . {مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (ج ١ص ١٣}

(١٠) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال و حفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة

۱- د خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو تولو تأسیساتو ته د فعالیت جواز ورکول؛

۲- د خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو د بهرنیو کارخونو او دوی پوري د اړوندو خوراکي او درملیزو توکو ثبتول؛

۳- د وارداتي خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو د کیفیت، اغیزمنتوب او خوندیتوب څخه د ډاډ ترلاسه کول؛

۴- د تولیدي کارخونو او وارداتي شرکتونو لخوا د سپارل شویو اسنادو د کره توب څخه ډاډ ترلاسه کول؛

۵- د ثبت شویو خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو د نوملړ برابرول او د ادارې د ویب پاڼې له لارې یې خپرول؛

۶- د بهرنیو کارخونو او اړوندو خوراکي او درملیزو توکو د ثبت د مودې وخت غزول او یا نوی وخت ورکول؛

۷- د ادارې د اصولو او مقرراتو په رڼا کي د خوراکي توکو او درملو د ثبت او بازار موندنې په بدل کي د اړوند معین مبلغ (فیس) ترلاسه کول؛

۸- د عامې روغتیا وزارت د کیفیت د کنټرول لابراتوار لخوا د تورید شویو خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو معیاري کیفیت معلومول؛

۹- د کیفیت د کنټرول په موخه د عامې روغتیا وزارت د اصولو په رڼا کي د خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو د نمونې اخیستل او د کیفیت د کنټرول لابراتوار ته یې استول؛

۱۰- د اړوندو اسنادو په رڼا کي د تولیدي او وارداتي شرکتونو له اړخه د تولید شویو او وارد شویو درملیزو او روغتیايي محصولاتو د پلور، بیو او نرخونو ټاکل؛

۱۱- د کیفیت د تثبیت په موخه په بازارونو کي د موجوده خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو نمونې او اړوند معلومات راټولول؛

۱۲- عامې روغتیا وزارت کي د وارداتي شرکتونو د ټولو زیرمتونونو (ګدامونو) ثبتول؛

۱۳- د امنیتي ځانګو سره په همغږۍ کي محکمو ته د سرغړوونکو معرفي کول؛

۱۴- د اړینو ارفان درملو د نوملړ برابرول او د اړتیا په صورت کي یې تجدیدول او د نومړو درملو د واردولو په موخه یې وارداتي شرکتونه په ګوته کول او د واردولو سپارښتنه ورته کول؛

۱۵- د ډاکترانو له خوا د شفرې او قیدي نسخو د لیکلو او غیر مجازو درملو د تجویز څخه مخنیوی کول؛

---

الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱۴] الناشر: دارالكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتارعلى الدرالمختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكرللطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجولك بذلك أعظم الأجرو أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج۱ ص ۲۰۴] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

۱٦- د درملو د علمي نوم او په کمپیوټري ډول د نسخو په لیکلو سره د ناوړه ګټې اخیستنې څخه مخنیوی کول؛

۱۷- خپلې چارې د درملو د مجاز لیست په اساس عیارول؛

۱۸- درملیزو مارکیټونو ته د اړتیا څخه بغیر د درملیزو محصولاتو د داخلیدو د مخنیوي په موخه د اړتیا سره سم د درملو مجاز لیست، تجدید ته ځانګړې پاملرنه کول. (۱۱)

(۲) د عامې روغتیا وزارت یوازې د هغو خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو اړوند مکلفیت په غاړه لري چې په اړه یې وار له مخه د وزارت اجازه لیک ترلاسه شوی وي. (۱۲)

(۳) هغه درمل او روغتیایي محصولات چې لابراتوار یې د کیفیت پایله منفي ګرځولې وي، د ادارې له اړخه اړونده درملیز توکي او روغتیایي محصولات د دې قانون له حکمونو سره سم له منځه وړل کیږي. (۱۳)

(٤) هغه خوراکي توکي چې لابراتوار یې د کیفیت پایله منفي ګرځولې وي، که په نورو برخو کې د استفادې وړ وي اداره د هغې مالک په یادو برخو کې یې په کارولو مکلف کوي او که په نورو برخو کې د استفادې وړ نه وي، د ادارې له اړخه اړونده خوراکي توکي د دې قانون له حکمونو سره سم له منځه وړل کیږي. (١٤)

**<u>د درملو او روغتیایي محصولاتو اړوند حکمونه</u>**

**اوومه ماده:**

---

(۱۱) المرجع السابق.

(۱۲) - وأما وزارة التنفيذ فحكمها أضعف وشروطها أقل؛ لأن النظرفيها مقصورعلى رأي الإمام وتدبيره، وهذا الوزيروسط بينه وبين الرعايا والولاة يؤدي عنه ما أمر، وينفذ عنه ما ذكر، ويمضي ما حكم . [الأحكام السلطانية للماوردي (ص: ٥٦] الناشر: دارالحديث - القاهرة.

- (المادة ۸۲) المعلق بالشرط يجب ثبوته عند ثبوت الشرط . [مجلة الأحكام العدلية (ص: ٢٥] الناشر: نورمحمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي

(۱۳) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخربجباية الاموال و حفظها، ولآخربحفظ الثغور، ولآخربادارة الاموراالسياسية، ولآخربعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكرفيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنزبأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحرالرائق شرح كنزالدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤] الناشر: دارالكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتارعلى الدرالمختار ج ۲ ص ۱۷۲]دارالفكرللطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمرالرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجولك بذلك أعظم الأجرو أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج۱ ص ۲۰٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

(١٤) المرجع السابق.

(۱) د درملو او روغتیایي محصولاتو د نرخونو په تعیینولو کې د عامې روغتیا وزارت صلاحیت لري . [۱۵]

(۲) د عامې روغتیا وزارت څخه پرته نورې اړونده ادارې د تولیدي او وارداتي شرکتونو له اړخه د تولید شویو او وارد شویو درملیزو او روغتیایی محصولاتو د پلور بیو په ټاکلو کې د مداخلې حق نه لري. [۱۶]

## د مالیې وزارت وظایف او مکلفیتونه

**اتمه ماده:**

(۱) د مالیې وزارت لاندې وظایف او مکلفیتونه لري: [۱۷]

۱- د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د ذخیره کولو او ساتلو لپاره د داخلي او نړیوالو معیارونو سره سم د معیاري زیرمتونونو جوړول؛

---

(۱۵) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال و حفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ] الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجر و أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج۱ ص ۲۰٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

(۱٦)المرجع السابق.

(۱۷) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال و حفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ] الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجر و أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج۱ ص ۲۰٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

۲- د گمرکي اسنادو د پړاوونو د سرته رسولو پر مهال، خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو ته په خپلو لومړیتوبونو کي ځای ورکول؛

۳-د خوراکي توکو او درملو لپاره په تعرفو بیا بیا کتنه ترڅو صحیح او مجاز تجارت ته زمینه برابره او خلک قاچاق ته اړ نه شي؛

۴- د گمرکونو او نورو اړونده ادارو ترمنځ ښه همغږي رامنځته کول؛

۵- په رسمي لارو نورو هیوادونو ته په کور دننه د تولیدي خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو او خامو موادو په قاچاقي ډول د صادراتو مخنیوی.؛

(۲) هغه خوارکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات چي د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو څخه د تورید اجازه لیک ونه لري د ماليې وزارت يې د گمرکي محصول په نه اخیستلو مکلف دی .[۱۸]

(۳) د ماليې وزارت مکلف دی د دې مادې په (۲) فقره کي ذکر شوي خوراکي توکي ، درمل او روغتیایي محصولات، د کورنیو چارو وزارت او استخباراتو عمومي ریاست د باصلاحیته استازو په شتون کي مولد هیواد ته مسترد او تر سرحدي کرښې پورې دې وځاري.[۱۹]

(۴) هغه مسترد شوي خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات چي د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو څخه د تورید اجازه ونه لري په رسمي لارو افغانستان ته د بیا داخلېدو په صورت کي د ماليې وزارت مسئول دی.[۲۰]

(۵) که په اړونده گمرکاتو کي د وارد شویو اصولي خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو ساتنه ممکنه نه وي نو د گمرکي پړاوونو د سرته رسولو څخه وروسته د ماليي وزارت مکلف دی چي یاد توکي د عامې روغتیا او یا کرنې وزارت او همدارنگه د استخباراتو د عمومی ریاست او د ولایت د علماوو شورا د باصلاحیته استازو په شتون کي د توریدي شرکتونو معیاري گودامونو ته انتقال او تر هغه وخته دې قرنطین کړي چي د عامې روغتیا یا کرنې وزارت څخه د کیفیت د کنترول پایله يې نه وي راغلې او هیڅوک د پایلو د اعلان څخه مخکي د دغه توکو د وېش او خرڅلاو اجازه نه لري.[۲۱]

---

(۱۸)- المرجع السابق.

(۱۹)- المرجع السابق.

(۲۰)- عن عبد الله بن عمر، أن رسولَ الله - صلَّى الله عليه وسلم - يقال: "ألا كلُّكم رَاعٍ وكلُّكم مسؤول عن رعِيّته: فالأميرُ الذي على الناسِ راعٍ عليهم وهو مسؤولٌ عنهم، والرجلُ راعٍ على أهلِ بيته وهو مسؤول عنهم، والمرأة راعية على بيت بَعلها وولده وهي مَسؤولة عنهم، والعَبدُ راعٍ على مالِ سيِّده وهو مَسؤولٌ عنهُ؛ فكلكم راعٍ، وكلكم مَسؤول عن رعيته" سنن أبي داود ت الأرنؤوط (ج ٤ص ٥٥٣) الناشر: دار الرسالة العالمية

- قوله صلى الله عليه وسلم (كلكم راع وكلكم مسؤول عن رعيته) قال العلماء الراعي هو الحافظ المؤتمن الملتزم صلاح ما قام عليه وما هو تحت نظره ففيه أن كل من كان تحت نظره شيء فهو مطالب بالعدل فيه والقيام بمصالحه في دينه ودنياه ومتعلقاته .[شرح النووي على مسلم (ج ١٢ص ٢١٣] الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت

- مطلب طاعة الإمام واجبة. ( قوله: أمر السلطان إنما ينفذ ) أي يتبع ولا تجوز مخالفته. [رد المحتار على الدر المختار ج ٨ص ١٣٢ الرشيدية]

.

(۲۱)- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١]الناشر: دار الكتاب الإسلامي

## د کرنې وزارت وظايف او مکلفيتونه

**نهمه ماده:**

(۱) د کرنې وزارت لاندې وظايف او مکلفيتونه لري: (۲۲)

۱- د وظيفوي صلاحيتونو په رڼا کې د خوراکي توکو، حيواني او کرنيزو درملو د کيفيت، اغيزمنتوب او خونديتوب څخه د ډاډ ترلاسه کول؛

۲- د خوراکي توکو، حيواني او نباتي درملو د واردولو په صورت کې د وړاندې شويو اسنادو د کره توب څخه د ډاډ ترلاسه کول او له روغتيا او مثمريت څخه يې تصديق کول؛

۳- د کرنې، وزارت د تشخيص، تجزيه، تحليل او کيفيت د کنټرول لابراتوار لخوا د توريد شويو خوراکي توکو، حيواني او نباتي درملو معياري کيفيت معلومول؛

۴- د کيفيت د تثبيت په موخه په بازارونو کې د موجوده خوراکي توکو، حيواني او نباتي درملو نمونې او اړوند معلومات راټولول؛

۵- کرنې وزارت کې د وارداتي شرکتونو د ټولو زيرمتونونو (گدامونو) ثبتول؛

٦- د توليدي، صادراتي، وارداتي او ترانزيتي کرنيزو او حيواني درملو او نورو اړونده توکو ثبت او اجازه ورکول.

(۲) که د دې مادې په (۱) فقره کې ذکر شوي لابراتوار ته د لېږل شويو خوراکي توکو او حيواني او نباتي درملو د کيفيت پايله منفي وي نو د کرنې وزارت يې په اړه د دې قانون له حکمونو سره سم اجراءآت کوي (۲۳)

(۳) هر هغه نباتي او حيواني محصولات چې نباتي صحي سند (فايتوسنيترى) او حيواني صحي سند (سنترى) ولري او معيار سره برابر وي د کرنې وزارت مکلف دى چې په اړه يې له اصولو سره سم اجراءآت وکړي. (۲٤)

---

(۲۲) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى وجميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال وحفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤] الناشر: دارالكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجر و أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج١ ص ٢٠٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

(۲۳) المرجع السابق.

(۲٤) المرجع السابق.

(۴) د کرنې وزارت مکلف دی، د ټولو هغه کرنیزو او حیواني توکو په اړه چې افغانستان ته وارد او یا ورڅخه صادریږي، د ګمرکاتو ریاست او د افغانستان سوداګرۍ خونې ته رسمي مکتوب ولېږي. (۲۵)

(۵) د کرنې وزارت مکلف دی چې د هر هغه حیواني او یا کرنیز درمل او یاکیمیاوي سرې چې افغانستان ته واردیږي د واردوونکي شرکت د اجازه نامې، د تولیدي هیواد د اصلي (اوریجنل) سند، د هر قلم د تحلیل سند (انالیز سند)، د تولیدي کمپنۍ د آیسو (ISO) سند، بسته بندۍ نوملړ او د خرید سند کتنه او ارزونه او هم یې یوه نمونه ترلاسه کړي. (۲۶)

(۶) د کرنې وزارت مکلف دی چې د مالیې وزارت د ګمرکونو استعلامونو ته په لنډ وخت کې ځواب ورانديي کړي. (۲۷)

**د صنعت او سوداګرۍ وزارت وظایف او مکلفیتونه**

**لسمه ماده:**

د صنعت او سوداګرۍ وزارت لاندې مکلفیتونه لري: (۲۸)

۱- وارداتي شرکتونو ته د سوداګرۍ جواز ورکول؛

۲- د توریدي شرکتونو څخه د جواز د ورکړې پر مهال په قاچاقي ډول د اړوندو توکو د نه توريد په پار کتبي تعهد اخیستل؛

۳- د قاچاق د مخنیوي په موخه د سوداګریزو تګلارو پراختیا او انکشاف.

**د سترې محکمې مکلفیتونه**

**یوولسمه ماده:**

ستره محکمه لاندې مکلفیتونه لري: (۲۹)

---

(۲۵) المرجع السابق.

(۲۶) المرجع السابق.

(۲۷) المرجع السابق.

(۲۸) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى وجميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخربجباية الاموال وحفظها، ولآخربحفظ الثغور، ولآخربادارة الامور السياسية، ولآخربعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكرفيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنزبأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱۴] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتارعلى الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجرو أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج۱ ص ۲۰۴] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

(۲۹) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى وجميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخربجباية الاموال وحفظها، ولآخربحفظ الثغور، ولآخربادارة

۱- د اړونده محاکمو له لارې د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو پورې اړوند قضایاوو ته په وخت او عاجله توګه رسیدګي کول؛

۲- د شریعت په رڼا کې سرغړوونکو ته د دې قانون د تعزیري حکمونو سره سم د جزاګانو ټاکل.

**<u>د استخباراتوعمومي ریاست وظایف او مکلفیتونه</u>**

**دوولسمه ماده:**

د استخباراتو عمومي ریاست لاندې وظایف او مکلفیتونه لري : (۳۰)

۱- د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو او نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ کې د غیر رسمي بیلتیو مالونه او قاچاقي بارونو کشف او اړوندو ادارو ته یې معلومات ورکول؛

۲- عامې روغتیا او کرنې وزارتونو او نورو اړوندو ادارو سره په همغږۍ کې د هغو زیرمتونونو او تم ځایونو کشف او بېړنده چېرې چې قاچاقي خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات د نورو سوداګریزو توکو سره یوځای ذخیره اوساتل کیږي.

۳- د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د قاچاق او غیر قانوني فعالیتونو د مخنیوي په پار د عامې روغتیا وزارت په غوښتنه اړونده ادارو سره د بشپړې همغږۍ ساتل.

---

الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكرفيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنزبأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱٤] الناشر: دارالكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتارعلى الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجرو أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج ۱ ص ۲۰٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

(۳۰) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال و حفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكرفيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنزبأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱٤] الناشر: دارالكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتارعلى الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجرو أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج ۱ ص ۲۰٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

**د کورنیو چارو وزارت وظایف او مکلفیتونه**

**دیارلسمه ماده:**

د کورنیو چارو وزارت لاندي وظایف او مکلفیتونه لري: (۳۱)

۱- د استخباراتو لوی ریاست، د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو او نورو اړونده ادارو په هر اړخیزه همکاري د افغانستان له پولو څخه د غیر رسمي، او غیر مجاز خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د واردولو مخنیوی کول.

۲- افغانستان ته د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د واردولو د مخنیوي په موخه د غیر رسمي وارداتي او صادراتي لارو پېژندل او په دې برخه کې د لازمو تدابیرو نیول؛

۳- د نافذه قوانینو او اصولو د پلي کولو په موخه په بېلابېلو برخو کي د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو او نورو اړوندو ادارو سره همکاري کول؛

۴- د اړونده امنیتي ادارو سره د نژدې همغږۍ له لاري د ټولو ممکنه غیر رسمي لارو او سیمو کشف او پېژندنه؛

۵- د گمرکي تخلف او قاچاق په صورت کې د اړونده ادارو سره په همغږۍ د اړینو تدابیرو نیول او نږدې گمرکونو ته خبر ورکول.

۶- نورو ملکونو ته په غیر رسمي لارو په کور دننه د تولیدي او توریدي خوراکي توکو، درملو، روغتیایي محصولاتو او توريد شویو خامو موادو د قاچاق په ډول د صدور مخنیوی؛

۷- د استخباراتو د عمومي ریاست په همکارۍ، مسترد شوې درمل او روغتیایي محصولات چې د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو څخه د توريد اجازه ونه لري په غیر رسمي لارو افغانستان ته یې د بیا داخلولو مخنیوی.

**د دفاع وزارت وظایف او مکلفیتونه**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) د فاع وزارت لاندي وظایف او مکلفیتونه لري : (۳۲)

---

(۳۱) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى وجميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال وحفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجر وأفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج١ ص ٢٠٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

(۳۲) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى وجميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال وحفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة

۱- د اړوندو امنيتي ادارو سره د همغږۍ له لارې د ټولو ممکنه غیر رسمي لارو او سيمو کشف او پېژندنه .

۲- د ممکنه غیر رسمي تشخیص شويو لارو او سيمو د دوامداره څارنې په موخه اړين تدابير نيول.

۳- په ټولو غیر رسمي لارو د قاچاق د کشف په صورت کې تر ټولو نږدې ګمرک ته اطلاع ورکول او هغوی ته د نيول شويو خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو تسليمول.

## د ښاروالیو مکلفیت

**پنځلسمه ماده:**

ښاروالۍ مکلفې دي ، هغو افرادو او اشخاصو ته صنفي جواز ور نه کړي چې د اړوندو ادارو له اړخه په قاچاقي کړنو کې ښکيل ګڼل شوي وي. (۳۳)

## د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وظايف او مکلفيتونه

**شپاړسمه ماده:**

---

الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجر وأفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج۱ ص ۲۰٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

(۳۳) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى وجميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال وحفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجر وأفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج۱ ص ۲۰٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت لاندې وظایف او مکلفیتونه لري: [۳٤]

۱- د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو او اړونده ادارو سره په همغږۍ د بې کیفیته، قاچاقي او غیر اصولي خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د تولید او تورید د مخنیوي په موخه د غږیزو او چاپي رسنیو له لارې د عامه پوهاوي لپاره د پروګرامونو او اشتهاراتو برابرول او نشرول؛

۲-د داخلي تولیداتو څخه د ملاتړ په موخه د عامه پوهاوي پروګرامونو جوړول ترڅو د قاچاق مخه ونیول شي؛

۳- د هغو اشتهاراتو او اعلاناتو د نشر مخنیوی چې د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو او اړونده ادارو له اړخه یې اجازه لیک نه وي ترلاسه کړی.

## دوهم باب

## د شرکتونو او موسساتو مکلفیتونه

دا باب په لاندې درو فصلونو مشتمل دی:

لومړی فصل: د شرکتونو مکلفیتونه؛

دوهم فصل: د موسساتو مکلفیتونه؛

دریم فصل: د طبیبانو او اشخاصو مکلفیتونه.

## لومړی فصل

## د شرکتونو مکلفیتونه

**د وارداتي شرکتونو او د درملو د متشبث مکلفیتونه:**

**اووه لسمه ماده:**

---

(۳٤) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال و حفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجر و أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج۱ ص ۲۰٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

(۱) وارداتي شرکتونه مکلف دي چي د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د واردولو د فعالیت جواز د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو څخه ترلاسه کړي. [۳۵]

(۲) وارداتي شرکتونه مکلف دي، ټول اړین اسناد او فیسونه تسلیم او د اړونده مراحلو د بشپړولو څخه وروسته په عامې روغتیا وزارت کي د بهرنیو کارخونو او دوی پوري اړوند درمل او روغتیایي محصولات ثبت کړي. [۳٦]

(۳) وارداتي شرکتونه مکلف دي چي د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د کمیت او کیفیت د تحلیل ارزونه که په افغانستان کي دننه شونتیا ونه لري، د هرې بستې د شمېرې، بار او یا محمولې د تحلیل او ارزونې تصدیق پاڼه د تولیدوونکي کارخونې له اړخه، وزارت سره شریکه کړي. [۳۷]

(۴) د هغو خوراکي توکو لپاره چي د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو له خوا یې ثبت او یا هم مخکي له واردولو اجازه لیک اړین ګڼل شوی وي، وارداتي شرکتونه مکلف دي چي همغه خوراکي توکي په عامې روغتیا وزارت کي ثبت او یا هم مخکي له واردولو اجازه لیک تر لاسه کړي. [۳۸]

(۵) وارداتي شرکتونه مکلف دي چي د نورو درملو په څنګ کي د ارفان درمل چي نوملړ یې د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو لخوا چمتو کیږي وارد کړي. [۳۹]

(٦) وارداتي شرکتونه مکلف دي چي لږ تر لږه ۷۰٪ د ثبت شویو پروفورمونو پر اساس ادویه د یو کال لپاره وارده کړي ترڅو د درملو بازارونه د درملو له کمښت سره مخ نه شي. [٤۰]

(۷) وارداتي شرکتونه مکلف دي، انساني درمل رسمي عمده پلورنځیو ته وو‌ېشي. [٤۱]

(۸) وارداتي شرکتونه نه شي کولای په مستقیم ډول پرچون درملتونونو ته درمل توزیع او وو‌ېشي. [٤۲]

---

(۳۵) - قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲] دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- أن بعض المباحات قد تصير واجبات بأمر الحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا، إلا أن وجوبها يقتصر على زمن ولايتهم.[فيض الباري على صحيح البخاري (۲٤۳/٥] الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان

(۳٦)المرجع السابق.

(۳۷)المرجع السابق.

(۳۸)المرجع السابق.

(۳۹)المرجع السابق.

(٤۰)المرجع السابق.

(٤۱)المرجع السابق.

(٤۲) - أنهم صرحوا أن المباح في نفسه قد يصير حرامًا من حكم الأمير من جهة أن الله أمر بطاعتهم، فقال: {أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم} فحينئذٍ لو رأى الأمير أن يمنع الناس عن أكل شيءٍ لمصلحةٍ بدت له، يجب عليهم أن لا يأكلوه، ويحرم عليهم. إلا أن تلك الحرمة تقتصر على مدة إمارته فقط، ولا يتجاوزها، فهي حرمةٌ مؤقتةٌ. ومن هذا الباب تحريم التمباك، فإنه قد نهى عنه بعض السلاطين، فاحفظه. [فيض الباري على صحيح البخاري ج ۲ ص ٤۰۸ الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان].

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ ص ۱۱] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

(۹) وارداتي شرکتونه نه شي کولای په انحصاری ډول درمل او روغتیایي محصولات خپلو اړوندو عمده او پرچون درملتونونو ته وویشي. [۴۳] عمده پلورنځي په هیڅ ډول نه شي کولای، خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات افغانستان ته وارد کړي. [۴۴]

(۱۰) وارداتي شرکتونه مکلف دي چې په عامې روغتیا وزارت کې د ثبت شویو کارخونو څخه ثبت شوي درمل وارد کړي او په ټول افغانستان کې یې وویشي ترڅو درملو ته د خلکو د لاسرسي څخه ډاډ ترلاسه شي [۴۵]، که په قصدي ډول ثبت شوي درمل وارد نه کړي چې له امله یې بازارونو کې د درملو کمښت منځ ته راشي، د عامې روغتیا وزارت به له دغه ډول شرکتونو سره اصولي چلند کوي. [۴۶]

(۱۱) وارداتي شرکتونه تر هیڅ عنوان لاندې نه شي کولای د خپلو فروشاتو د کچې د لوړولو په موخه ډاکټرانو ته په مختلفو نومونو پیسې یا نور امتیازات ورکړي؛ له دې حکم څخه سرغړوونکي به محکمې ته معرفي کیږي. [۴۷]

(۱۲) وارداتي شرکتونه نه شي کولای درمل او روغتیایي توکي د عامې روغتیا وزارت لخوا د ټاکل شوې سلبي څخه پورته وپلوري، د سرغړونې په صورت کې به د سرغړوونکو سره اصولي چلند کیږي. [۴۸]

(۱۳) وارداتي شرکتونه مکلف دي چې د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د واردولو پر مهال د عامې روغتیا او کرنې وزارتونو ټول اصولي اسناد مراعات کړي. [۴۹]

---

(۴۳) المرجع السابق.

(۴۴) المرجع السابق.

(۴۵) - قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲] دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- أن بعض المباحات قد تصير واجبات بأمر الحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا، إلا أن وجوبها يقتصر على زمن ولايتهم.[فيض الباري على صحيح البخاري (۵/۲٤۳] الناشر: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان

(٤٦) أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال و حفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور

(٤٧) وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

(٤٨) المرجع السابق.

(٤٩)- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲] دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- أن بعض المباحات قد تصير واجبات بأمر الحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا، إلا أن وجوبها يقتصر على زمن ولايتهم.[فيض الباري على صحيح البخاري (۵/۲٤۳] الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان

(۱۴) وارداتي شرکتونه مکلف دي چي د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو له رارسېدو وروسته ټول اړوند اصلي اسناد، ګمرکونو، عامې روغتيا او کرنې وزارتونو ته وسپاري او د اسنادو د پړاوونو د سرته رسولو (طی مراحل) موضوع دي له اړوندو ادارو سره په منظم ډول تعقيب کړي. [۵۰]

(۱۵) وارداتي شرکتونه مکلف دي چي خوراکي توکي، درمل او روغتيايي محصولات په معياري زيرمتونونو کي وساتي. [۵۱]

(۱۶) وارداتي شرکتونه مکلف دي، د درملو او روغتيايي توکو د لېږد پرمهال د ټرانسپورټ معياري وسيلو څخه کار واخلي. [۵۲]

(۱۷) د درملو متشبث چي رسمي جواز ولري مکلف دی د هر قلم درملو يا روغتيايي محصولاتو د توريد يا عرضه کولو لپاره د عامې روغتيا وزارت څخه مخکيني اجازه ليک ولري. [۵۳]

**د هوايي او ځمکنيو ترانسپورتي شرکتونو، اشخاصو او کارکوونکو مکلفيتونه**

**اتلسمه ماده:**

(۱) ترانسپورتي شرکتونه نه شي کولای د شرکتونو او اشخاصو هغه خوراکي توکي، درمل او روغتيايي محصولات او خام مواد انتقال او افغانستان ته وارد کړي چي د سوداګری رسمي جواز ليک او همدارنګه د عامې روغتيا وزارت څخه د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د واردولو اجازه ليک ونه لري. [۵۴]

(۲) هغه اشخاص چي د لېږد او رالېږد وسايل لري او اړونده جواز ليک ونه لري، په هېڅ ډول نه شي کولای خوراکي توکي، درمل او روغتيايي محصولات افغانستان ته وارد کړي. [۵۵]

(۳) د هوايي ميدانونو او د طيارو کارکوونکي ( پيلوټ، انجينر، خدمه ....) په هېڅ ډول نه شي کولای خوراکي توکي، درمل او روغتيايي محصولات د سوداګريزو موخو لپاره افغانستان ته وارد کړي. [۵۶]

**دوهم فصل**

**د موسساتو مکلفيتونه**

**داخلي او نړيوال موسسات**

**نولسمه ماده:**

---

(۵۰) المرجع السابق.

(۵۱) المرجع السابق.

(۵۲) المرجع السابق.

(۵۳)المرجع السابق.

(۵٤)- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنزبأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤) الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١]الناشر: دار الكتاب الإسلامي

(۵۵) المرجع السابق.

(۵٦) المرجع السابق.

(۱) داخلي او نړیوال موسسات مکلف دي چې د خپلې اړتیا وړ خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات د اسلامي امارت د اصولو سره سم له کورنیو تولیدي فابریکو، توریدي شرکتونو او عمده پلورنځیو څخه وپلوري. (۵۷)

(۲) هغه ځانګړي توکي چي له مستندو دلایلو او د عامې روغتیا وزارت له تائید سره د افغانستان په داخل کي د پیدا کیدو وړ نه وي، د دې مادې د (۱) فقرې له حکم څخه مستثنی دي. (۵۸)

(۳) داخلي او نړیوال موسسات مکلف دي، په عامې روغتیا او کرنې وزارتونو کي د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د واردولو څخه مخکي جواز لیک ثبت کړي. (۵۹)

(۴)که د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د کمیت او کیفیت تحلیل او ارزونه په افغانستان کي شونتیا ونه لري، داخلي او نړیوال موسسات مکلف دي چي د هرې بستې د شمېرې او بار یا محمولې د تحلیل او ارزونې تصدیق پاڼې د تولیدوونکي کارخونې له اړخه د عامې روغتیا وزارت سره شریک کړي. (۶۰)

(۵) د داخلي تولیداتو څخه د ملاتړ په موخه داخلي او نړیوال موسسات مکلف دي چي د داخلي کارخونو تولید شوي محصولات واخلي او نور د اړتیا وړ خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات له داخلي مارکیټونو څخه ترلاسه کړي. (۶۱)

---

(۵۷)- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱)الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- أن بعض المباحات قد تصير واجبات بأمر الحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا، إلا أن وجوبها يقتصر على زمن ولايتهم.[فيض الباري على صحيح البخاري (۵/ ۲۴۳)] الناشر: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان

- وكذلك إن أمروهم بشيء لا يدرون أينتفعون به أم لا، فعليهم أن يطيعوه، لأن فرضية الطاعة ثابتة بنص مقطوع به. وما تردد لهم من الرأي في أن ما أمربه منتفع أو غير منتفع به لا يصلح معارضا للنص المقطوع. [شرح السير الكبير (ص: ۱۶۵] الناشر: الشركة الشرقية للإعلانات

(۵۸) (المادة ۱۷) : المشقة تجلب التيسير.

يعني: أن الصعوبة تصير سببا للتسهيل ويلزم التوسيع في وقت المضايقة, يتفرع على هذا الأصل كثير من الأحكام الفقهية كالقرض , والحوالة , والحجر, وغير ذلك وما جوزه الفقهاء من الرخص والتخفيفات في الأحكام الشرعية مستنبط من هذه القاعدة. [مجلة الأحكام العدلية (ص: ۱۸] الناشر: نور محمد, كارخانه تجارتِ كتب, آرام باغ, كراتشي

(۵۹)- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ص ۱۱)الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- أن بعض المباحات قد تصير واجبات بأمر الحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا، إلا أن وجوبها يقتصر على زمن ولايتهم.[فيض الباري على صحيح البخاري (۵/ ۲۴۳)] الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان

(۶۰) المرجع السابق.

(۶۱) المرجع السابق.

(٦) په هغه صورت کي چي د اړتيا وړ خوراکي توکي، درمل او روغتيايي محصولات په افغانستان کي د لاسرسي وړ نه وي، داخلي او نړيوال موسسات کولای شي چي د معتبرو بهرنيو کارخونو (چي د روغتيا د نړيوال سازمان له خوا يې تصديق پاڼه ترلاسه کړې وي) څخه اړوند محصولات وارد کړي. (٦٢)

(٧) داخلي او نړيوال موسسات مکلف دي چي د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د واردولو پر مهال د اړوندو توکو ٣/٢ ساتنيز عمر په پام کي ونيسي. (٦٣)

(٨) داخلي او نړيوال موسسات مکلف دي چي د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د واردولو پر مهال د عامې روغتيا او کرنې وزارتونو ټول اصولي اسناد مراعات کړي. (٦٤)

(٩) داخلي او نړيوال موسسات مکلف دي چي د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د رارسېدو وروسته ټول اړوند اصلي اسناد، گمرکونو او عامې روغتيا وزارت ته وسپاري او د اسنادو د پړاوونو د سرته رسولو (طي مراحل) موضوع دې له اړوندو ادارو سره په منظم ډول تعقيب کړي.

(١٠) داخلي او نړيوال موسسات مکلف دي چي خوراکي توکي، درمل او روغتيايي محصولات په معياري زېرمتونونو کي وساتي.

(١١) داخلي او نړيوال موسسات مکلف دي چي د درملو او روغتيايي توکو د لېږد پر مهال د ټرانسپورټ معياري وسيلو څخه کار واخلي. (٦٥)

## دريم فصل

## د طبيبانو او اشخاصو مکلفيتونه

**د دوديز طب طبيبانو مکلفيتونه**

**شلمه ماده:**

(١) د دوديز طب طبيبان مکلف دي چي په دوديز طب کي د کارونې وړ درمل او روغتيايي محصولات د عامې روغتيا وزارت د تائيد وروسته داړونده تگلارې په رڼا کي وارد، تجويز او وپلوري. (٦٦)

---

(٦٢) المرجع السابق.

(٦٣) المرجع السابق.

(٦٤) المرجع السابق.

(٦٥) المرجع السابق.

(٦٦) - قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتارعلى الدر المختار ج ٢ ص ١٧٢]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١]الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- أن بعض المباحات قد تصير واجبات بأمر الحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا، إلا أن وجوبها يقتصر على زمن ولايتهم.[فيض الباري على صحيح البخاري (٥/ ٢٤٣] الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان

(۲) د دودیز طب طبیبان مکلف دي چي په دودیز طب کي د هغو درملو او روغتیایي محصولاتو له کارونې، تطبیق او استفادې څخه ډډه وکړي چي د خوندیتوب په اړه یې علمي او معتبر شواهد او مدارک موجود نه وي. (۶۷)

**د اشخاصو اړوند حکمونه**

**یوویشتمه ماده:**

(۱) هغه اشخاص چي د سوداګرۍ رسمي جوازلیک او همدارنګه د عامې وزارت څخه د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د واردولو اجازه لیک ونه لري، نه شي کولای چي خوراکي توکي، درمل او روغتیایي محصولات د سوداګریزو موخو لپاره په رسمي او غیر رسمي لارو افغانستان ته وارد کړي. (۶۸)

(۲) هغه مسافر چي د بهرنیو هیوادونو څخه د ځمکنیز او هوایي ترانسپورت په واسطه افغانستان ته راځي د متخصص داکتر د با اعتباره معیاري نسخې پر اساس تجویز شوی درمل انتقالولای شي. (۶۹)

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کي ذکر شوی مسافر د شخصي اړتیا پرته نور درمل او روغتیایي محصولات د سوداګرۍ په موخه افغانستان ته نه شي را انتقالولای. (۷۰)

---

(۶۷) المرجع السابق.

(۶۸)- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١)الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ٢ ص ١٧٢]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤) الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- أنهم صرحوا أن المباح في نفسه قد يصير حرامًا من حكم الأمير من جهة أن الله أمر بطاعتهم، فقال: {أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم} فحينئذٍ لو رأى الأمير أن يمنع الناس عن أكل شيءٍ لمصلحةٍ بدت له، يجب عليهم أن لا يأكلوه، ويحرم عليهم. إلا أن تلك الحرمة تقتصر على مدة إمارته فقط، ولا يتجاوزها، فهي حرمةٌ مؤقتةٌ. ومن هذا الباب تحريم التمباك، فإنه قد نهى عنه بعض السلاطين، فاحفظه. [فيض الباري على صحيح البخاري ج ٢ ص ٤٠٨ الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان].

(۶۹) - وإنما يرجع إلى معرفة كل شيء إلى من له بصر في ذلك الباب كما في معرفة القيمة والأصل فيه قوله تعالى {فاسألوا أهل الذكر إن كنتم لا تعلمون} (النحل:٤٣)[المبسوط للسرخسي، ج ١٣، ص ١١٠] الناشر: دار المعرفة – بيروت

- لأن الحكم يدور مع الشرط وجودا وعدما كما يدور مع العلة.[ المبسوط للسرخسي (ج ١٢ص ١١٥] الناشر: دار المعرفة - بيروت

(۷۰)- أنهم صرحوا أن المباح في نفسه قد يصير حرامًا من حكم الأمير من جهة أن الله أمر بطاعتهم، فقال: {أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم} فحينئذٍ لو رأى الأمير أن يمنع الناس عن أكل شيءٍ لمصلحةٍ بدت له، يجب عليهم أن لا يأكلوه، ويحرم عليهم. إلا أن تلك الحرمة تقتصر على مدة إمارته فقط، ولا يتجاوزها، فهي حرمةٌ مؤقتةٌ. ومن هذا الباب تحريم التمباك، فإنه قد نهى عنه بعض السلاطين، فاحفظه. [فيض الباري على صحيح البخاري ج ٢ ص ٤٠٨ الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان].

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١)الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ٢ ص ١٧٢]دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

(۴) هغه بهرنی کارخونې چې د دې مادې کې ذکر شوي درمليز اقلام يې په عامې روغتيا او کرنې وزارتونو کې د ثبت د پروسې لاندې وي، اړونده درمليزې نمونې يې د دې مادې د حکمونو څخه مستثنی دي. (۷۱)

## دريم باب
## منع او تعزير

**له جواز پرته فعاليت**

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) له جواز يا رسمي اجازه ليک پرته د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو توريد منع دی. (۷۲)

(۲) که شرکتونه او اشخاص د دې مادې له (۱) فقرې څخه تخلف وکړي اړونده محکمې ته د مجازاتو لپاره معرفي کيږي. (۷۳)

**له جواز يا رسمي اجازه ليک پرته دفعاليت کوونکو اړوند تعزير**

**درويشتمه ماده:**

---

(۷۱) وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنزبأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

(۷۲)- أنهم صرحوا أن المباح في نفسه قد يصير حرامًا من حكم الأمير من جهة أن الله أمر بطاعتهم، فقال: {أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم} فحينئذٍ لو رأى الأمير أن يمنع الناس عن أكل شيءٍ لمصلحةٍ بدت له، يجب عليهم أن لا يأكلوه، ويحرم عليهم. إلا أن تلك الحرمة تقتصر على مدة إمارته فقط، ولا يتجاوزها، فهي حرمةٌ مؤقتةٌ. ومن هذا الباب تحريم التمباك، فإنه قد نهى عنه بعض السلاطين، فاحفظه. [فيض الباري على صحيح البخاري ج ٢ ص ٤٠٨ الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان]

[مطلب طاعة الإمام واجبة]

- (قوله: أمر السلطان إنما ينفذ) أي يتبع ولا تجوز مخالفته .[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (ج ٥ص ٤٢٢] الناشر: دار الفكر-بيروت

- وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١]الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة اه [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ٢ ص ١٧٢ . دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت]

(۷۳)-المادة (۱۸۰۰) القاضي وكيل من قبل السلطان بإجراء المحاكمة والحكم. [مجلة الأحكام العدلية (ص: ٣٦٧] الناشر: نور محمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي

- التعزير(ليس فيه تقدير بل هو مفوض إلى رأي القاضي) وعليه مشايخنا زيلعي لأن المقصود منه الزجر، وأحوال الناس فيه مختلفة الدر المختار وحاشية ابن عابدين [رد المحتار) (ج ٤ص ٦٢] الناشر: دار الكتب العلمية

- وظاهره أنه ليس مفوضا إلى رأي القاضي وأنه ليس للقاضي التعزير بغير المناسب المستحق لكن مختار السرخسي أنه ليس فيه تقدير بل هو مفوض إلى رأي القاضي لأن المقصود منه الزجر وأحوال الناس مختلفة فتفوض إلى رأي القاضي .[مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر- العلمية ج ٢ص ٣٧٢ ]الناشر: دار الكتب العلمية

(۱) که شرکتونه یا اشخاص له جواز یا رسمي اجازه لیک پرته خوراکي توکي، درمل یا روغتیایي محصولات په رسمي او غیر رسمي او یا قاچاقي لارو راوړي او د اړوند ادارو لخوا کشف او ونیول شي، یاد شیان یې د دې قانون له حکمونو سره سم له منځه وړل کیږي او سرغړوونکو ته یې د یو کال حبس ورکول کیږي. (۷٤)

(۲) که مسافر د افغانستان له بهر څخه د ځمکنیز او هوایي ترانسپورت په واسطه افغانستان ته راځي او د ډاکټر له نسخې او شخصي اړتیا پرته درمل او روغتیایي محصولات د سوداګرۍ په موخه افغانستان ته را انتقالوي اړونده اقلام دي د دې قانون له حکمونو سره سم له منځه یوړل شي او د دې غیر قانوني فعالیت د بیا نه کولو تعهد دي په لیکلیې بڼه ورڅخه واخیستل شي. (۷٥)

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کي له مندرج تعهد څخه، متخلف ته دي د دې قانون له حکمونو سره سم درې میاشتې حبس ورکړل شي. او د بیا ځل تکرار په صورت کي دي د تېر حبس دوه چنده حبس ورکړل شي. (۷٦)

**د واردوونکو شرکتونو د سرغړونو اړوند تعزیر**

**څلور ویشتمه ماده:**

(۱)که د درملو او روغتیایي محصولاتو توریدوونکی شرکت له مخکینۍ اجازې پرته په رسمي او غیر رسمي لارو د درملو او روغتیایي محصولاتو په تورید او بازار ته په وړاندي کولو لاس پوري کړي، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندي تعزیري سزا ورکول کیږي: (۷۷)

الف- لومړی ځل یې یاد درمل او روغتیایي محصولات د دې قانون له حکمونو سره سم له منځه وړل او د یوې میاشتې لپاره یې د درملیز مرکز فعالیت ځنډول؛

ب- دوهم ځل یې درمل او روغتیایي محصولات د دې قانون له حکمونو سره سم له منځه وړل او د درې میاشتو لپاره یې د درملیز مرکز فعالیت ځنډول؛

ج- د تکرار په صورت کي یاد متخلف ته د دې مادې د (۱) فقرې دوهم جز کي د درج شوې سزا دو چنده سزا ورکول.

---

(۷٤) المرجع السابق.

(۷٥) المرجع السابق.

(۷٦) المرجع السابق.

(۷۷)-المادة (۱۸۰۰) القاضي وكيل من قبل السلطان بإجراء المحاكمة والحكم. [مجلة الأحكام العدلية (ص: ۳٦۷) الناشر: نور محمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ، كراتشي

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر، وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية، فينبغي أن يبلغ غاية التعزير في الكبيرة .[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (٤/٦۲) الناشر: دار الفكر-بيروت

- التعزير (ليس فيه تقدير بل هو مفوض إلى رأي القاضي) وعليه مشايخنا زيلعي لأن المقصود منه الزجر، وأحوال الناس فيه مختلفة الدر المختار وحاشية ابن عابدين [رد المحتار] (ج ٤ ص ٦۲] الناشر: دار الكتب العلمية

- وظاهره أنه ليس مفوضا إلى رأي القاضي و أنه ليس للقاضي التعزير بغير المناسب المستحق لكن مختار السرخسي أنه ليس فيه تقدير بل هو مفوض إلى رأي القاضي لأن المقصود منه الزجر وأحوال الناس مختلفة فتفوض إلى رأي القاضي .[مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر- العلمية ج ۲ ص ۳۷۲ ]الناشر: دار الكتب العلمية

(۲) که گمرک ته په رارسیدلې محموله کې داسې درملیز اقلام او روغتیايي محصولات وموندل شي چې اسناد يې موجود نه وي اړوند توکي، د دې قانون له حکمونو سره سم له منځه وړل کیږي او متخلف ته د دې قانون په درویشتمه ماده کې د ذکر شویو سزاګانو سربېره د محکمې په حکم علني سزا هم ورکول کیږي. [۷۸]

(۳) که د درملو او روغتیايي محصولاتو توریدوونکی شرکت د هغو درملو او روغتیايي محصولاتو په تورید او بازار ته په وړاندې کولو لاس پورې کړي چې په عامې روغتیا او کرنې وزارتونو کې يې د ثبت مرحله نه وي تکمیل شوې د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزیري سزا ورکول کیږي: [۷۹]

الف- په لومړي ځل متخلف ته په قهرجنو الفاظو توصیه کول او ورڅخه د دې غیر قانوني فعالیت د بیا نه کولو تعهد په لیکلي بڼه اخیستل؛

ب- په دوهم ځل يې د یوې میاشتې لپاره، د درملیز مرکز فعالیت ځنډول؛

ج- د تکرار په صورت کې اړونده وارد شوي اقلام يې د دې قانون له حکمونو سره سم له منځه وړل.

(۴) که د خوراکي توکو، درملو او روغتیايي محصولاتو توریدوونکی شرکت په خپلو معیاري ګودامونو کې قرنطین شوي توکي د عامې روغتیا یا کرنې وزارت دکیفیت د کنترول لابراتوار د پایلو د رارسېدو نه مخکې له خپلو ګودامونو څخه وباسي او یا يې وپلوري د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزیري سزا ورکول کیږي: [۸۰]

الف- په لومړي ځل د متخلف اړونده پلورل شوي اقلام له مارکیټ څخه راټولول او د دې قانون له حکمونو سره سم يې له منځه وړل؛

ب- په دوهم ځل يې د یوې میاشتې لپاره ، د درملیز مرکز فعالیت ځنډول؛

ج- د تکرار په صورت کې يې د تل لپاره، د درملیز مرکز فعالیت بندول.

(۵) که د درملو توریدوونکی شرکت افغانستان ته د مخکیني مهال وېش سره سم د هغو ارفان درملو په واردولو اقدام ونه کړي چې د عامې روغتیا وزارت له خوا ورته د تورید سپارښتنه شوې وي، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزیري سزا ورکول کیږي: [۸۱]

الف- په لومړي ځل يې فعالیت د یوې میاشتې لپاره ځنډول؛

ب- د تکرار په صورت کې د تیرې سزا دوه چنده ورکول.

(۶) که د درملو توریدوونکی شرکت په عامې روغتیا اوکرنې وزارتونو کې د ثبت شوې پروفورمې ۷۰٪ د پروفورمې د تعیین شوي عمر په جریان کی وارد نه کړي، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تأدیبي سزا ورکول کیږي: [۸۲]

الف- په لومړي ځل د یو کال لپاره یاد شرکت د همغه قلم درملو د ثبت څخه محرومول؛

---

(۷۸) المرجع السابق.

(۷۹) المرجع السابق.

(۸۰) المرجع السابق.

(۸۱) المرجع السابق.

(۸۲) المرجع السابق.

ب- په دوهم ځل یې د دوه کلونو لپاره د همهغه قلم درملو د ثبت څخه محرومول؛
ج- په دریم ځل یې د همهغه قلم درملو د ثبت تصدیق پاڼه لغوه کول.
(۷) که د درملو توریدوونکی شرکت په پرچون پلورونکو درملتونونو باندې درمل وپلوري، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تأدیبي سزا ورکول کیږي: [۸۳]
الف- په لومړي ځل د یاد شرکت فعالیت د یوې اونۍ لپاره ځنډول؛
ب- په دوهم ځل یې فعالیت د یوې میاشتې لپاره ځنډول؛
ج- د تکرار په صورت کې د ورستۍ سزا دوه چنده سزا ورکول.
(۹) که د درملو او روغتیایي محصولاتو توریدي شرکت په انحصاري ډول درمل او روغتیایي محصولات خپلو اړوند او عمده درملتونونو ته ووېشي او یا څو مشخصو افرادو او مراجعو ته یې داسې توزیع کړي وي چې خلک، درملو او روغتیایي محصولاتو ته لاسرسی پیدا نه کړي، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزیري سزا ورکول کیږي: [۸٤]
الف- که خپلو اړوند او عمده درملتونونو او یا څو مشخصو افرادو او مراجعو ته یې درمل او روغتیایي محصولات وېشلي وو، په لومړي ځل دې د توريد کوونکي شرکت فعالیت د یوې اونۍ لپاره وځنډول شي؛
ب- په دوهم ځل دې د توريد کوونکي شرکت فعالیت د یوې میاشتې لپاره وځنډول شي؛
ج - د تکرار په صورت کې دې ورستۍ سزا دوه چنده ورکول شي.
(۱۰) که د درملو او روغتیایي محصولاتو تولیدي کارخونه، توریدي شرکت، عمده پلورنځي او درملتونونه د وارد شویو درملو او روغتیایي محصولاتو د توزیع لپاره ډاکترانو ته د ګټې په موخه فیصدي او یا نور امتیازات ورکوي، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزیري سزا ورکول کیږي: [۸۵]
الف- په لومړي ځل دې د تولیدي کارخونې، واردوونکي شرکت، عمده پلورنځي او درملتون فعالیت د یوې میاشتې لپاره وځنډول شي؛
ب- په دوهم ځل دې د تولیدي کارخونې، واردوونکي شرکت، عمده پلورنځي او درملتون فعالیت د درو میاشتو لپاره وځنډول شي؛
ج- په دریم ځل دې د تولیدي کارخونې، واردوونکي شرکت،عمده پلورنځي او درملتون مسئول ته درې میاشتې حبس ورکول شي؛
د- د بیا تکرار په صورت کې دې وروستۍ سزا دوه چنده ورکول شي.
(۱۱) که یو ډاکتر د واردوونکو تولیدي کارخونو، شرکتونو، عمده پلورنځیو او درملتونونو څخه فیصدي او یا نور امتیازات واخلي، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزیري سزا ورکول کیږي: [۸٦]
الف- په لومړي ځل ورڅخه په لیکلی بڼه د بیا نه کولو تعهد اخیستل، کتنځای او روغتیایي فعالیت یې د یوې میاشتې لپاره ځنډول.

---

(۸۳) المرجع السابق.
(۸٤) المرجع السابق.
(۸۵) المرجع السابق.
(۸٦) المرجع السابق.

ب- په دوهم ځل يې کتنځای او روغتيايي فعاليت د درو مياشتو لپاره ځنډول او ياده موضوع د لازمو رسمي کړنو لپاره عامې روغتيا وزارت ته ليږل؛

ج- په دريم ځل يې د فعاليت جواز ، د عامې روغتيا وزارت له اړخه سلبول او د روغتيا په برخه کې له کار کولو څخه د تل لپاره منع کول.

(۱۲) که د خوراکي توکو او درملیزو تأسیساتو جواز لرونکي، د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو دلېږد لپاره د غير معياري لېږد وسايلو څخه ګټه اخلي او په غيرمعياري زيرمتونونو کې يې ساتي، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزيري سزا ورکول کيږي: [۸۷]

الف- په لومړي ځل ورڅخه د بيا نه کولو تعهد په ليکلي بڼه اخيستل؛

ب- په دوهم ځل يې فعاليت د يوې مياشتې لپاره ځنډول؛

ج- د بيا تکرار په صورت کې ورته وروستۍ سزا دوه چنده ورکول.

(۱۳) که افراد د جواز ليک پرته د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو دلېږد لپاره د غير معياري لېږدوسايلو څخه ګټه اخلي او په غير معياري زيرمتونونو کې يې ساتي، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزيري سزا ورکول کيږي: [۸۸]

الف- په لومړي ځل يې توکي له منځه وړل؛

ب- په دوهم ځل د يادو توکو د له منځه وړلو سربېره متخلف ته يوه مياشت حبس ورکول؛

ج- د بيا تکرار په صورت کې ورته وروستۍ سزا دوه چنده ورکول.

(۱۴) که ترانسپورتي شرکتونه او يا افراد د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو محمولې افغانستان ته واردوي چې د سوداګرۍ رسمي جوازليک او همدارنګه د عامې روغتيا او کرنې وزارتونو څخه د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د واردولو اجازه ليک ونه لري د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزيري سزا ورکول کيږي: [۸۹]

الف- په لومړي ځل يې توکي له منځه وړل او په ياد قاچاق کې ښکيل موټر ته د يوې مياشتې توقف ورکول؛

ب- په دوهم ځل يې د دې فقرې په الف جز کې د ذکر شوي سزا ورکولو سربېره د ترانسپورتي شرکت مسئول ته د يوې مياشتې حبس ورکول؛

ج- په دريم ځل يې د دې فقرې په ب جز کې د ذکر شوي حبس ورکولو سربېره د ترانسپورتي شرکت موټر له کار څخه منع کول.

(۱۵) که د هوايي ميدانونو او د طيارې کارکوونکي ( پيلوټ، انجنير، خدمه ....) د سوداګريزو موخو لپاره خوراکي توکي، درمل او روغتيايي محصولات وارد کړي، د دې قانون له حکمونو سره سم لاندې تعزيري سزا ورکول کيږي: [۹۰]

الف - په لومړي ځل ور څخه د بيا نه کولو تعهد په ليکلي بڼه اخيستل؛

ب - په دوهم ځل يې د دې قانون له حکمونو سره سم ياد توکي له منځه وړل؛

---

(۸۷) المرجع السابق.

(۸۸) المرجع السابق.

(۸۹) المرجع السابق.

(۹۰) المرجع السابق.

ج – د بیا تکرار په صورت کې، په یو کال حبس محکومیدل.

(۱٦) که د روغتیایي خدماتو وړاندي کوونکی داخلي او نړیواله مؤسسه د دې قانون د نولسمې مادې اړونده فقرو کي راغلو احکامو څخه سرغړونه وکړي د دې قانون له حکمونو سره سم لاندي تعزیري سزا ورکول کیږي:

الف- په لومړي ځل ورته لیکلی اخطار؛

ب- په دوهم ځل یې درمل او روغتیایي محصولات له منځه وړل؛

ج- د تکرار په صورت کي یې د فعالیت جواز لغوه کول.

(۱۷) که یو شخص د دوديز طب ترنامه لاندي د یوویشتمې مادې له حکمونو څخه سرغړونه وکړي، اړوند توکي دي له منځه یوړل شي او سرغړوونکی دي محکمې ته معرفي شي.

(۱۸) د ممنوعه خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو قاچاق کوونکو ته د دې قانون له حکمونو سره سم لاندي تعزیري سزا ورکول کیږي :

الف- یاد توکي ، درمل او روغتیایي محصولات د دې قانون له حکمونو سره سم له منځه وړل؛

ب- قاچاق کوونکي په نهه دیرش ډُرو او دوه کاله حبس محکومول ؛

ج- په یاد قاچاق کي ښکیل موټر ته درې میاشتې توقف ورکول.

(۱۹) که د امارتي ادارو مسئولین، کاروکونکي او نور ټول هغه اشخاص چي په یو ډول امارتي ادارو سره تړاو ولري، او په قاچاق کي د قاچاق کوونکي سره مرسته او یا لاربنوونه وکړي، له اثباتیه دلایلو موندلو وروسته له وظائفو څخه منفک، او د قاچاق کوونکي په سزاګانو محکومیږي[۹۱].

## څلورم باب

## متفرقه حکمونه

**د کاري هیئت ایجاد، ترکیب او اړوند حکمونه**

**پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) د دې قانون د حکمونو د تعقیب او ښه تطبیق په موخه دي د لوړې سطحې هیئت په لاندي ترکیب ایجاد شي:[۹۲]

۱- د عامي روغتیا د وزارت سرپرست وزیر د هیئت د رئیس په توګه.

---

(۹۱) المرجع السابق.

(۹۲) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال و حفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- لما كان الملك لا يستطيع إقامة هذه المصالح كلها بنفسه وجب أن يكون له بإزاء كل حاجة أعوان ، ومن شرط الأعوان الأمانة والقدرة على إقامة ما أمروا به و انقيادهم للملك والنصح له ظاهرا أو باطنا [حجة الله البالغة ج ۱ ص ۹۸ ] داراحياء علوم الدين .

- وليس للأعوان حصر في عدد لكنه يدور على دوران حاجات المدينة، فربما تقع الحاجة إلى اتخاذ عونين في حاجة، وربما كفا عون لحاجتين .[حجة الله البالغة ج۱ص ٩٦] الناشر: دار الجيل، بيروت – لبنان

۲- د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو معين د عضو په توګه.
۳- د ماليې وزارت معين د عضو په توګه.
٤- د کورنيو چارو وزارت معين د عضو په توګه.
۵- د دفاع وزارت معين د عضو په توګه.
٦- دسوداګرۍ او صنعت وزارت معين د عضو په توګه.
۷- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت معين د عضو په توګه.
۸- د کرنې وزارت معين د عضو په توګه.
۹- د استخباراتو لوی رياست معاون د عضو په توګه.
۱۰- د چارو ادارې لوی رياست اړوند د ښاروالیو د انسجام لوی رياست معاون د عضو په توګه.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د مندرج هيئت د دارالانشاء چارې د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو معينيت پر غاړه دي[۹۳].
(۳) د دې مادې په (۱) فقره کې، مندرج هيئت د رياست الوزراء د اداري مرستيال تر څارنې لاندې فعاليت کوي.[۹٤]

**د جواز ليک د اعتبار څخه د اطمينان حاصلول**

**شپږ ويشتمه ماده:**

(۱) د عامې روغتيا او کرنې وزارتونه مکلف دي چې د اړونده ادارو ترمنځ ارتباطي نظام رامنځته کړي.[۹۵]
(۲) د اسنادو د جعل او تزوير څخه د مخنيوي په موخه ټول ګمرکي مسئولين او اړونده ادارې مکلفې دي چې د دې مادې په (۱) فقره کې د ذکر شوي ارتباطي نظام له لارې د عامې روغتيا وزارت څخه د صادر شويو جواز ليکونو او نورو اړونده اسنادو د اعتبار څخه خپل ډاډ تر لاسه کړي.[۹٦]
(۳) د عامې روغتيا او کرنې وزارتونه مکلف دي چې د دې مادې په (۱) فقره کې ذکر شوی ارتباطي نظام د ماليې وزارت په مالي ملاتړ په راتلونکي کې الکترونيکي بڼې ته واړوي.[۹۷]

(۹۳) - وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١]الناشر: دار الكتاب الإسلامي
- أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخربجباية الاموال وحفظها، ولآخربحفظ الثغور، ولآخربادارة الامور السياسية، ولآخربعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ج ٦ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.
(۹٤) المرجع السابق.
(۹۵) المرجع السابق.
(۹٦) المرجع السابق.
(۹۷) المرجع السابق.

(۴) اړونده اداري مکلفې دي چې د دې مادې په (۲) فقره کې ذکر شویو اسنادو د ډاډ ترلاسه کولو څخه وروسته اړونده اقلامو ته افغانستان ته د واردولو اجازه ورکړي (۹۸).

**د خسارې نه جبران**

**اووه ویشتمه ماده:**

که په رسمي او غیر رسمي لارو د قاچاقي خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د نیولو او توقف په حالت کې، توکو یا وسایطو ته زیان ورسیږي، د مال څښتن د جبران دعوی نه شي کولای (۹۹).

**د تولیدي درملو او خوراکي توکو اړوند حکمونو**

**اته ویشتمه ماده:**

(۱) ټول درمل او خوراکي توکي چې په داخل د افغانستان کې تولیدیږي، تولید کوونکي مکلف دي چې په خپلو تولیداتو معیاري نښان ولګوي. (۱۰۰).

(۲) د درملو او خوراکي توکو تولید کوونکي مکلف دي چې د خپلو تولیداتو معیاري نښان کې دي په پښتو او دري ژبو لاندې ځانګړنې درج کړي:

۱- د تولیدي درمل یا خوراکي توکي نوم؛

۲- د تولیدوونکي نوم او پته؛

۳- د تولید او پای نیټه؛

۴- د ترکیب اجزاء؛

۵- د تولید د ساتلو طریقه؛

۶- د بیج(جوپه) او یا لاټ (مجموعه ) شمیره او نور اړین معلومات.

---

(۹۸) المرجع السابق.

(۹۹)- قال - رحمه الله - (ولو باع القاضي أو أمينه عبدا للغرماء وأخذ المال فضاع واستحق العبد لم يضمن) أي ضاع ثمن العبد في يد البائع وهو القاضي أو أمينه لم يضمن القاضي، ولا أمينه الثمن للمشتري؛ لأن أمين القاضي قائم مقام القاضي والقاضي قائم مقام الخليفة وكل واحد منهم لا يلزمه الضمان؛ لأنه لو لزمه الضمان لتقاعدوا عن قبول هذه الأمانة كي لا يلزمهم الضمان وتعطلت مصالح المسلمين.[ تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشلبي (ج ٤ص ٢٠٤] الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة

- " لأن أمين القاضي قائم مقام القاضي والقاضي مقام الإمام وكل واحد منهم لا يلحقه ضمان كي لا يتقاعد عن قبول هذه الأمانة فيضيع الحقوق .[الهداية في شرح بداية المبتدي (ج٣ص ١١٤] الناشر: داراحياء التراث العربي - بيروت – لبنان

- ولو باع القاضي أو أمينه عبدًا للغرماء وأخذ المال فضاع واستحقّ العبد لم يضمن.[ كنز الدقائق (ص: ٤٦٩] الناشر: دار البشائر الإسلامية، دارالسراج

(١٠٠)- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١٤] الناشر: دارالكتاب الإسلامي

- وظاهركلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ١١]الناشر: دارالكتاب الإسلامي

## د قاچاق کوونکو اړوند تعزیري حکمونه

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) که د قاچاق عمل د شبکې (منظمې ډلې) له لارې وي، د شبکې (منظمې ډلې) مشر، په دې قانون کې د درج شویو تعزیري سزاګانو، د زیاتې سزا په دوه برابره سزا محکومیږي.[۱۰۱]

(۲) هغو قاچاق کوونکو ته چې د نیولو پر مهال وسله وال مقاومت وکړي او په پایله کې یې چاته هیڅ قسم زیان نه وي رسیدلی، د دې قانون له حکمونو سره سم، لاندې سزا ورکول کیږي.[۱۰۲]

الف- اړوند توکي یې له منځه وړل؛

ب- له ۵ څخه تر ۱۰ کلونو پورې په حبس محکومیدل.

**په رسمي او غیر رسمي لارو د قاچاق د دوسیو ترتیب او لیږل**

**دېرشمه ماده:**

د ګمرک اړونده ادارې مکلفې دي چې د (۷) کاري ورځو په جریان کې، په دې قانون کې د یاد شویو قاچاق کوونکو او موټر چلوونکو دوسیې ترتیب او اړونده محکمې ته یې د پریکړې کولو په موخه واستوي.[۱۰۳]

---

(۱۰۱)-المادة (۱۸۰۰) القاضي وكيل من قبل السلطان بإجراء المحاكمة والحكم. [مجلة الأحكام العدلية (ص: ۳۶۷] الناشر: نور محمد، کارخانه تجارتِ کتب، آرام باغ، کراتشي

- قال الزيلعي: وليس في التعزير شيء مقدر. وإنما هو مفوض إلى رأي الإمام على ما تقتضي جنايتهم، فإن العقوبة فيه تختلف باختلاف الجناية، فينبغي أن يبلغ غاية التعزير في الكبيرة .[الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۶۲/٤)] الناشر: دار الفكر-بيروت

- التعزير (ليس فيه تقدير بل هو مفوض إلى رأي القاضي) وعليه مشايخنا زيلعي لأن المقصود منه الزجر، وأحوال الناس فيه مختلفة الدر المختار وحاشية ابن عابدين [رد المحتار) (ج ٤ص ۶۲] الناشر: دار الكتب العلمية

- وظاهره أنه ليس مفوضا إلى رأي القاضي وأنه ليس للقاضي التعزير بغير المناسب المستحق لكن مختار السرخسي أنه ليس فيه تقدير بل هو مفوض إلى رأي القاضي لأن المقصود منه الزجر وأحوال الناس مختلفة فتفوض إلى رأي القاضي .[مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر- العلمية ج ۲ص ۳۷۲ ]الناشر: دار الكتب العلمية

(۱۰۲) المرجع السابق .

(۱۰۳) - وظاهر كلامهم هاهنا أن السياسة هي فعل شيء من الحاكم لمصلحة يراها، وإن لم يرد بذلك الفعل دليل جزئي.[البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ٥ص ۱۱]الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال وحفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ج ۶ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امرائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ]الناشر: دارلقلم دمشق.

**د اړونده ادارو تر منځ همغږي او همکاري**

**یو دېرشمه ماده:**

(۱) اړونده ادارې چې د دې قانون په رڼا کې ورته وظایف سپارل شوي، مکلفې دي چې په ممکنه وخت کې خپل وظایف ترسره کړي او د اړتیا په وخت کې دې له همکارو ادارو څخه مرسته وغواړي.(۱۰۴)

(۲) همکارې ادارې مکلفې دي چې د اړوندو ادارو د همکارۍ د غوښتنې په صورت کې له هغوئ سره همکاري وکړي.(۱۰۵)

**د طرز العملونو تدوین**

**دوه دېرشمه ماده:**

د عامې روغتیا وزارت کولای شي، د دې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور طرز العملونه تدوین کړي.(۱۰۶)

**تعدیل یا لغو**

**درې دېرشمه ماده:**

د دې قانون د حکمونو تعدیل یا لغو د تقنیني پړاوونو له تېرولو څخه وروسته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی حضور ته د توشېح لپاره وړاندې کیږي.(۱۰۷)

**انفاذ او خپرول**

**څلور دېرشمه ماده:**

---

(۱۰٤) المرجع السابق .

(۱۰۵) المرجع السابق .

(۱۰٦) - أصل الحكم وإدارة الشئون ان يكون للسلطان لأنه صاحب الإمامة الكبرى و جميع من يعمل للعموم يكون وكيلا عنه- لكن الوكالة قد تكون بلا واسطة كان يقول السلطان لزيد وكلتك بالحكم بين الناس، ولآخر بجباية الاموال وحفظها، ولآخر بحفظ الثغور، ولآخر بادارة الامور السياسية، ولآخر بعقاب المجرمين ... وقد يكون بالواسطة كأن يقلد السلطان انسانا عملا ويفوض له العزل والنصب. [شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي، المادة ۱۸۰۰ ج ٦ ص: ۵۰ ] مكتبه حقانيه، بشاور.

- ومنها: انه القى خطبة ذكر فيها مسئوليات وواجبات امر ائه وعماله على البلاد والامصار. [ازالة الخفاء ج ۳ ص ۱۸۹ ] الناشر: دارلقلم دمشق.

- وصرح الإمام الزيلعي في شرح الكنز بأن للإمام ولاية عامة وله أن يتصرف في مصالح المسلمين . [البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (ج ۵ ص ۱۱٤] الناشر: دار الكتاب الإسلامي

- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ۲ ص ۱۷۲] دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت.

- وكل ما رأيت أن الله تعالى يصلح به أمر الرعية فافعله ولا تؤخره فإني أرجو لك بذلك أعظم الأجر و أفضل الثواب.[الخراج لأبي يوسف ج۱ ص ۲۰٤] الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث

(۱۰۷) المرجع السابق.

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ [۱۰۸] او په رسمي جریده کې دې خپور شي [۱۰۹] او نور هغه قوانین چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لهخوا تأیید یا توشېح شوي نهوي او یا له دې قانون سره مغایر وي ملغی دي. [۱۱۰]

(۱۰۸) (قوله: أمر السلطان إنما ينفذ) أي: يتبع ولا تجوز مخالفته. (الدر المختار وحاشية ابن عابدين ج٥ ص ٤٢٢ الناشر: دار الفكر-بيروت).
-أن بعض المباحات قد تصير واجبات بأمر الحكام، لكونهم من أولي الأمر، وقد أمرنا بإطاعتهم أيضا. [فيض الباري على صحيح البخاري، ج٥ ص ٢٤٣، الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان].
- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ٢ ص ١٧٢] دار الفكر بيروت].
(۱۰۹) وأما الإعلان في الجرائد فلم تكن أوراق حوادث في عصر الفقهاء كما هو في زماننا فلا يوجد بحثٌ في الكتب الفقهية بشأن الإعلان بهذه الواسطة. ولكن الإعلان في زماننا بواسطة الأوراق المذكورة أيضًا جائزٌ. ولكن بما أنه ليس كل الناس يقرءون الجرائد ويعرفون قراءتها وبما أنه لا توجد جرائد في كل محل فيجب الإعلان أيضًا بواسطة المنادي في مجامع الناس كما قال الفقهاء ...[ درر الحكام شرح مجلة الأحكام ج ٢ ص ٢٤٩ الناشر: دار الجيل].
(۱۱۰) أن من يعرض عليه القانون يأخذ منه أمراً باتباع قانون من قبله بأن يكتب أمره باتباعه . تقريرات الرافعى ضميمه حاشية ابن عابدين. ج: ١٦. ص: ٥٩٨. ط: دارلسلام. دمشق.
- قال في المعراج لأن طاعة الإمام فيما ليس بمعصية واجبة اه [حاشية رد المحتار على الدر المختار ج ٢ ص ١٧٢ . دار الفكر للطباعة والنشر. بيروت].
- مطلب هل يبقى النهي بعد موت السلطان؟ لكن هل يبقى النهي بعد موت السلطان الذي نهى بحيث لا يحتاج من بعده إلى نهي جديد أفتى في الخيرية بأنه لا بد من تجديد النهي ولا يستمر النهي بعده وبأنه إذا اختلف الخصمان في أنه منهي أو غير منهي فالقول للقاضي ما لم يثبت المحكوم عليه النهي وأطال في ذلك وأطاب فراجعه . وأما ما ذكره السيد الحموي أيضا من أنه قد علم من عادتهم يعني سلاطين ل عثمان نصرهم الرحمن من أنه إذا تولى سلطان عرض عليه قانون من قبله وأخذ أمره باتباعه فلا يفيد هنا لأن معناه أن يلتزم قانون أسلافه بأن يأمر بما أمروا به وينهي عما نهوا عنه ولا يلزم منه أنه إذا ولى قاضيا ولم ينهه عن سماع هذه الدعوى أن يصير قاضيه منهيا بمجرد ذلك وإنما يلزم منه أنه إذا ولاه ينهاه صريحا ليكون عاملا بما التزمه من القانون كما اشتهر أنه حين يوليه الآن يأمره في منشوره بالحكم بأصح أقوال المذهب كعادة من قبله وتمام الكلام على ذلك في كتابنا تنقيح الحامدية فراجعه وأطلنا الكلام عليه أيضا في كتابنا تنبيه الولاة والحكام [رد المختار على الدر المختار ج ٥ ص ٤٢٠ الناشر: دار الفكر بيروت].
- أنهم صرحوا أن المباح في نفسه قد يصير حرامًا من حكم الأمير من جهة أن الله أمر بطاعتهم، فقال: {أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم} فحينئذٍ لو رأى الأمير أن يمنع الناس عن أكل شيءٍ لمصلحةٍ بدت له، يجب عليهم أن لا يأكلوه، ويحرم عليهم. إلا أن تلك الحرمة تقتصر على مدة إمارته فقط، ولا يتجاوزها، فهي حرمةٌ مؤقتةٌ. ومن هذا الباب تحريم التمباك، فإنه قد نهى عنه بعض السلاطين، فاحفظه. [فيض الباري على صحيح البخاري ج ٢ ص ٤٠٨ الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان].